# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# داؤد، يو شپون هلک




Edward Hughes :ليکونکے

Lazarus :خيال
Alastair Paterson

Ruth Klassen :خوښونکے

Aim4Faith Ministries :ترجمه کونکے

Bible for Children :مددګار
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قيصئ نقل کولے شئ يا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.




ډېره موده مخکښې، د ساؤل په ورځو کښې چې د بنى اسرائيلو بادشاه وو. داؤد نومې يو هلک وو چې هغۀ به خپلو ورونو سره د پلار د رمو خفاظت کولو کښې د هغوئ مدد کولو.



هغه په دوئ ټولو کښې وړوکے وو، داؤد يو طاقتور او زړۀ
ور هلک وو او خدائ پاک سره يې مينه وه او په خدائ پاک
باندې يقين ساتلو. هغه د بيت لحم په ښار کښې اوسېدلو.



3

يو ځل يو زمرې د رمې نه ګډورې وتښتولو چې وې
خورې، نو داؤد په هغۀ باندې حمله کوې او
هغه ګډورے ترې نه آزادوې او هغه
يروونکے ځناور د ژامنې نه
نيسې او وژنې يې. داؤد ته پته وه
چې خدائ پاک د هغۀ مدد وکړو.



4

سموئيل، د خدائ پاک نبې اوس هم خفه وو، چې ساؤل بادشاه
د خدائ پاک منصوبه ناکامه کړه. خدائ پاک سموئيل ته
وفرمائيل ې تۀ به تر کومې پورې په ساؤل پسې
خفګان کوې؟ زۀ تا يسی خواته لېږم. ځکه
چې ما د هغۀ د زامنو نه يو کس خوابش
کړے دے چې بادشاه شي. يسی د
داؤد پلار وو.



5

تر دې چې سموئيل ته دا پته وه کۀ
چرې ساؤل بادشاه د دې نه خبر
شو نو هغه به ما ووژنې. خو نبې
د خدائ پاک حکم ومنلو.



6

کله چې سموئيل هلته لاړ شې. نو يسی خپل اوۀ زامن
سموئيل له راولې. خو سموئيل يسی ته
ووائې، چې خدائ پاک په دې کښې يو
هم نۀ دے خوښ کړې. د دې پس
صرف داؤد پاتې شوے وې،
ځوک چې د ټولو نه وړوکے وو.
هغه بهر خپلو رمو سره وو.
هغۀ داؤد دننه راولې، او خدائ
پاک ووائې، چې پاڅه، هم دغه يو
دے، سر يې په تېلو غوړ کړه.



7

د ساؤل په دربار کښې، د مالک خدائ روح د ساؤل نه
لاړ شې. او د هغۀ نه يو ډېر پرېشانه انسان جوړ شې.
د هغۀ نوکران دا سوچ کوې
چې ښه موسيقې ساؤل له
سکون ورکولے شې.



8



په هغوئ کښې یو کس داسې هلک پیژندلو چې هغه په
موسیقۍ کښې ډېر ماهر وی. آیا تاسو ته پته شته دے چې
هغه هلک څوک وو؟ او مونږ
ته پته ده هغه هلک داؤد وو.

9



د داؤد موسیقی د ساؤل ډېره زیاته خوښه
شوه. او د هغهٔ به د هغه مدد کولو. نو بیا
ساؤل یسی ته ووائی، چې داؤد زما ډېر زیات
خوښ دے، هغه پرېږده چې زما خدمت
کوی. د هغې وخت نه واخله چې کله به
هم د خدائ پاک رالیږلے شوے پیرے
په ساؤل راتلو، نو داؤد به د هغهٔ
رباب وغږولو نو ساؤل به
لږ ښهٔ شو.

10

د داؤد کور ته د تلو نه پس، د ساؤل فلستیانو سره یو
لوئ جنګ راځی. او د داؤ ورونه د ساؤل په لښکر
کښې جنګیږی. یسی داؤد میدان جنګ ته لیږی چې
هغه خپلو ورونو له ډوډي یوسی. او دا معلومه کړی
چې هغوئ څنګه دی.



11

بیا یو ډېر طاقتور فلستے چې د دیو په شان وو د هغهٔ نوم
جولیت وو ټول بنی اسرائیلیان د هغهٔ په وجه باندې ویرېدلی
وو.



12

جولیت چغه کړه او هغوي ېې ووئیل چې تاسو د ځان د
پاره یو کس خوښ کړئ چې دلته راشی او ما سره جنګ
وکړی.



13

کهٔ چرې هغه زما سره جنګ کولے شی او ما ووژنی، نو
مونږ به ستاسو غلامان یُو، خو زهٔ یې وګټم او هغه ووژنم،
نو تاسو به زمونږ غلامان یئ، او زمونږ خدمت
به کوئ. د بنی اسرائیل ټولو سړو چې هغه د
دیو په شان سړے
ولیدو نو هغوئ
زړونه بائیلل او
ویرېدل.



14

داؤد ساؤل ته وفرمائیل، هیڅ څوک هم دې د هغه فلستی په
وجه زړۀ نۀ غورزوی، ستا خدمت کوونکے به لاړ شی او
د دې فلستی سره به جنګ وکړی. بیا ساؤل غوښتل چې
داؤد زغره واچوی او ځان سره تُوره واخلی. خو د هغې په
ځائ باندې داؤد خپله امسا او د ولې پینځۀ هوار کانی
واخلی او ځان سره یې یوسی.



15

جولیت چې کله داؤد ووینی نو په هغۀ پورې ورله خندا
ورغله ځکه چې داؤد زغره هم نۀ وی اچولی. نو هغه ورته
ووئیل چې زۀ به ستا غوښه مارغانو
او ځناورو ته واچوم. داؤد ورته
په جواب ووائی زۀ ستا
خلاف د ربُ الافواج په
نوم سره درځم، دا هغه
ورځ ده چې مالک خدائ
په دې ما له په لاس کښې
راکړی. ځکه چې دا د
مالک خدائ جنګ
دے.



16

بیا داؤد زر زر د فلستیانو د جنګ صفونو ته ورمنډه کړه
چې د هغۀ سره ملاو شی. هغۀ خپلې بوجئ ته لاس وردننه
کړو او یو کانے یې ترې نه
راوویستو، په لینده یې
جولیت په سر باندې
وویشتو. کانے د
هغۀ په تندی کښې
وردننه شو او هغه
پړمخې په زمکه
راپرېوتو.



17

داؤد هغۀ له ورمنډه کړه، د جولیت تُوره یې د کاش نه
راوُویسته، سر یې ترې نه پرې کړو او هغه یې مړ کړو.
کله چې فلستیانو ولیدل چې د هغوئ پهلوان مړ شو، نو
هغوئ د خپل ځان بچ کولو د پاره منډه کړه او تښتېدل.



18

ساؤل باره ته دا پته نۀ وه چې دا هم هغه داؤد وو چا چې به
دۀ ته رباب غږولو. نو ساؤل هغه په خپل لښکر کښې آفسر
جوړ کړو. او بیا هغۀ هغۀ سره کینه
شروع که کله چې خلقو د داؤد
تعریف کولو، نو اوس د بادهی نه
علاوه اوس هغۀ ته نور څۀ ملاوېدل
پاتې دی؟ نو د هغه ورځې نه
وروستو هغۀ داؤد
ته د شک په
نظر کتل
شروع کړل.



19

یو ځل بیا، د خدائ پاک رالیږلی شوی پیری ساؤل بیا
ونیولو. نو داؤد هغۀ ته بینجو غږوی د دې د پاره چې هغۀ ته
سکون ملاو شی. ساؤل درې ځله خپله نېزه په داؤد باندې
ورګزار کړه.
خو داؤد هر ځل
ځان بچ کولو. ساؤل د داؤد نه یرېدو ځکه
چې هغه مالک خدائ پرېښے
وو، او د داؤد مل وو.



20

خو د ساؤل زوئ یونتن به داؤد سره لکه د
ورونړو په شان مینه کوله. نو یونتن داؤد ته ووئیل
چې زما پلار ساؤل تا قتل کول غواړی. نو داؤد
بچ شو. بیا د هغهٔ ښځې د هغهٔ په کټ کښې بالخ
کېښودو، او په نیمه شپه یې داؤد د یوې
کړکۍ نه کوز کړو. او چې کله سحر د
ساؤل سړی راشی
نو داؤد د هلته
نه تلے وی.



21

داؤد د ساؤل نه لرې لاړ شی، خو د تلو نه مخکښې هغه او
یونتن یو بل سره وعدې وکړی، هغوئ دا وعدې وکړی چې
هغوئ به همېشه د یو بل مدد کوی.



22

افسوس چې هغوئ دواړه ملګری یو بل ته په مخه ښه
ووائی. داؤد د یو داسې ځائ په تلاش کښې ووتلو چرته
چې هغه د ساؤل د سپاهیانو نه بغیر د څهٔ ویرې نه
اوسېدلے شی.



23

داؤد، یو شپون هلک

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

۱سموئیل ۱٦ - ۲۰

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

24

# ختم شو



25

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ
ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

26